# سادات: د کاندیدانو د لومړني لېست د اعلام لپاره تیار یوو

د انتخاباتو خپلواک کمېسیون وايي چې د ولسمشرۍ انتخاباتو د کاندیدانو د لومړني لېست د اعلام لپاره تخنیکي تیار یوو. د دغه کمېسیون یوه ویاند ذبیح سادات ووړم، مابام ازادۍ راډیو ته ویلي چې په‌دې اړه د کمېسیون د مشرانو د پرېکړې په تمه دي. دی وايي: «د ټاکنو خپلواک کمېسیون تصمیم لري چې د ولسمشرۍ انتخاباتو د کاندیدانو لومړنی لېست خپور کړي. په‌دې اړه ټولې تخنیکي چارې بشپړې شوې دي. یوازې د مشرانو پرېکړې ته اړ یوو، چې د ولسمشرۍ ټاکنو د مهالوېش پر اساس پرون د سلواغې ۲۶مه مو د ولسمشرۍ انتخاباتو د کاندیدانو لومړنی لېست خپور کړو.» د ښاغلي سادات تر دې څرګندونو څو ساعته وړاندې د انتخاباتو د خپلواک کمېسیون یوې مرستیال ویاندې شیما علم سروش ویل چې د ثبت شویو کسانو د تابعیت په اړه نابشپړې ارزونې، ښايي د دغه لومړني لېست اعلام له ځنډ سره مخامخ کړي. د انتخاباتو خپلواک کمېسیون ویلي چې د ولسمشرۍ انتخابات به د راتلونکي لمریز کال د چنګاښ په ۲۹مه کوي په‌دغو انتخاباتو کې د سیالۍ لپاره ۱۸ کسانو خپل نومونه ثبت کړي دي.

Ketabton.com

انه

ه‌کېه

## ...مپ د افغان سولې لپاره خبرې
## ...وړخ هلې ځلې او پر طالبانو فشار بللې

...مشر
...د هغې
...به هم

حکړه پای ته ورسېږي، خو د دوشنبې
په ورځ د امریکا کانګرس په ټولې
اکثریت سره د ښاغلي ټرمپ هغه پلان

رد کړ، چې غواړي له دغو دوو
هېوادونو بېرته خپلې ځواکونه وباسي

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**